د افغانستان اسلامی امــارت
د کانونو او پټرولـیم وزارت



د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۵۱
نیټه: ۳/مرغومی/۱۴۰۱

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم سرپرست د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالی له پخواني قوماندان او د نورستان ولایت له مشرانو سره وکتل




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست ښاغلي شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالی له پخواني قوماندان او د نورستان ولایت له یو شمېر مشرانو، علماوو او سپینږیرو سره شنبه د 1401/9/26 نېټې په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر مېلمنو ته ښه راغلاست ووېل. ورپسې بیا ښاغلي قیصاري د دغه وزارت د مشرتابه له مېلمه پالنې مننه وکړه او په بېلابېلو موضوعاتو په ځانګړې توګه د فاریاب، جوزجان او سرپل ولایتونو د کانونو او نفتو په اړه خبرې وکړې.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د نورستان ولایت له مشرانو سره د بېلابېلو موضوعاتو او ستونزو په اړه خبرې اترې وکړې.



# د ترکي هیواد د ساختماني شرکتونو له استازي سره د کانونو او پټرولیم سرپرست لیدنه

کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د 77 ساختماني شرکتونو له استازي ښاغلي حسین اوني بوتسالي او د ترکیې هیواد پخواني سفیر سره د چهارشنبې په ورځ د 1401/9/23 نېټې په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

ښاغلي بوتسالي په دغه ناسته کې وویل: چې د افغانستان انرژۍ په برخه کې د ترکیې هیواد 77 ساختماني شرکتونو پانګونه کړي. او همدارنګه یې د افغانستان په کانونو کې پانګونې ته چمتوالی اعلان کړ چې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د هغه ستاینه او هر کلی وکړ.



کانونو او پترولیم وزارت اوونیزه

# بازدید سرپرست وزارت معادن و پترولیم از ساحات فروش ذغال‌سنگ ولایت کابل



شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم، به ساحات مختلف فروش ذغال سنگ شهر کابل رفته و چگونگی عرضه خدمات، کیفیت و روند توزیع آنرا از نزدیک مشاهده نمودند.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم با هیئت همراه شان به روز سه شنبه 1401/9/22 از ساحات فروش ذغال سنگ ناحیه هشتم، نهم، دوازدهم و شانزدهم شهر کابل بازدید نموده، با نمایندگان وزارت، شرکت‌های قراردادی و مردم پیرامون کیفیت بالای ذغال سنگ صحبت و کارکردهای آنان را قناعت بخش خواند.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم بهبود عرضه خدمات و بلند بودن کیفیت ذغال سنگ را برای شهروندان کابل در فصل سرمای زمستان از اولویت های مهم این وزارت عنوان نموده و به مسوولان هدایت داد تا در این راستا بیشتر تلاش نمایند، همچنان با شهروندان کابل دیدن نموده چالش‌ها و پیشنهادات آنان را استماع نمود.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کونړ ولایت کانونو ته نوی رئیس معرفي شو.




د کانونو او پټرولیم وزارت د 1444/4/20 نېټې 65 شمېرې وړاندیز او د افغانستان اسلامي امارت ریاست الوزرا د 1444/4/26 نېټې 1307 شمېرې د حکم پر اساس ښاغلی مولوي شیرین حقاني د مرحوم حاجي عبدالرحیم زوی د کنړ ولایت د کانونو د ریاست په دوهم بست کې د مقام د دفتر رئیس له لوري د یاد ریاست کارکوونکو ته ورمعرفي کړ.

د کونړ ولایت د کانونو نوي رئیس په خپلو خبرو کې د کانونو او پټرولیم وزارت له رهبري هیئت مننه وکړه او د یاد ریاست د چارو د لا ښه والي په موخه یې خپل کاري پلانونه په گوته کړل. او ژمنه یې وکړه چې د وزارت د مقام او د یاد ریاست د کار کوونکو په همکارئ به د کانونو او پټرولیم وزارت د پلانونو او برنامو په تطبیق کې هیڅ ډول هڅې ونه سپموم.

مولوي شیرین حقاني تر دې وړاندې شپږ کاله د موسیسو د کمیسیون رئیس په توگه دنده ترسره کړې ده.

مسوول مدیر: محمد فرهاد (عبیدی)

د امتیاز خاوند: د کانونو او پټرولیم وزارت

طرح او دیزاین: محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)

ترتیب او تنظیم : استاد نجیب الله (رحیمي)

ادرس: عبدالحق څلور لاري، کابل، افغانستان
www.momp.gov.af
د اړیکو شمیره: +93202304455
الکترونیکي پته: PR@momp.gov.af